شریعت

SHARIAT weekly

اوونیزه

په اوونی کې دوه ځله خپرېږي

دافغانستان د اسلامي امارت مرکزي نشراتي ارگان

شپږ . کال ۷۱ گڼه پرله پسی (۴۵۱) چهارشنبه د ۱۴۲۲ هـ ق کال د رجب المرجب (۹)

د ۱۳۸۰ هـ ش کال د میزان (۴) د ۲۰۰۱ میلادی کال د سپتمبر (۲۶)

الهی فرمان

ترجمه : تاونه لېدل چې ستارب په عادیانو باندې څه وکړل (دخپل دېر طاقت سره سره بې هلاک کړل)

دهیواد ټولو علماوو ته یوه خبرتیا

کابل باختر: دافغانستان دعلمای کرامو دشوراگانو دمرکزي دفتر خبرتیا! علمای کرامو تاسو دجهاد دقیادت او داسلامي مبارزې په لاره کې ستررول لوبولی دی او افغان مجاهد او پتمن ملت ستاسو له فتوا سره سم ژمنه کړیده له تاسو څخه په درناوی سره هیله کیږي چې په پرله پسې ډول په اړوند ولایتونو او ولسوالی کې غونډې جوړې کړې او خلک دلوی خدای «ج» داوامرو اطاعت او تقوا ته راوبولی.

دافغانستان مجاهد میړنی او آزاد ملت دهرکفری او یرغلگر ځواک او په تیره بیا دامریکا داستکبار دظالمانه او وحشیانه تیری په مقابل کی جهادته وهڅوی او مجاهدین په باطل باندې دحق دمبارزې او دایمان او تقوا دقوت دحتمي بریالیتوب په لاره

٤مخ

دامریکا داوسنی دریځ له امله

داندونیزیا عالمانو په مسلمانانو دیو والی غږ وکړ

بهرنی خبری سرچینی: داندونیزیا لویو اسلامي عالمانو په نړی کې مسلمانانو باندې غږ کړیدی چې افغانستان باندې دامریکا دحملو مخالفت وکړی . خودغودینی عالمانو زورزیاتی که دمسلمانانو له خواوی اوبا که دمسلمانانو پرضد وګغندلی دی خبریالان وا یی چې اسلامي عالمانو داخبره په ډاگه کړیده چې دهر رنگ تشدد او زورزیاتی

٤مخ

دجگړو په مختلفو لیکوکی

ددښمن ټول برید ونه ناکام شول

کابل - باختر: دسرپل او دکاپیسا دولایتونو او دچمچل په مربوطاتو کې دیاغی ډلو تعرضونه داسلامي اردو دمجاهدینو په میړانی او زورور تیا سره شنډکړای شول.

دهیواد دباوری نظامی خبر ځایو نو له خولی خبر راکړشو یاغی ډلو تیره شپه دسرپل ولایت دسنگچارک او گوسفندی دولسوالیو په مربوطاتو کی په یولړ

٤مخ

مراکز تیلفون خارجی درکابل از ۲۰ به ۱۰۸ مرکز رسید

کابل - شریعت: بابر قرار شدن تماس بین المللی تیلفون دیجیتل- رقم مراکز ICC مخابره بین المللی درشهرکابل به ۱۰۸ افزایش یافته است محترم انجینر رحمت الله رئیس تیلی کمونیکیشن وزارت مخابرات ضمن

ص٤

دلوړتیا غوښتو نکی امریکا داحتمالی برید ونو دغندنو په ترځ کی

په ټول هیواد کی مارشونه او مظاهر ی دوام لری

کابل باختر: په افغانستان باندی دامریکا داحتمالی یرغل گوابنونه او ددغه هیواد دواکمنانو ناسم سیاست دهری ورځی په تیریدو سره زمونږ دهیوادوالو دقهر او غوسې دراپاریدو سبب کیږی او خلک دغونډو په جوړولو او دمارشونو په کولو سره دامریکا دمنفی

٤مخ

حملات احتمالی امریکا به تعویق افتاد

سرانجام پیام تلویزیونی پوتین حملات احتمالی امریکا را بر افغانستان به تعویق انداخت.

گزارشگر روزنامه قضیه سیاسی افغانستان را درقبال حملات احتمالی امریکا اینگونه به تحلیل گرفته است.

پیام تلویزیونی دیروزه پوتین عدالت بی پایان قصر

ص٤

خوست لیدنی کتنی

کابل باختر: دخوست والی محترم ملا عبدالرؤف عارف پرون دجنوبی وزیرستان دجمعیت العلمای اسلام له لومړی ناظم او نایب محترم مولانا صادق نور سره وکتل.

په دی کتنه کی دجنوبی وزیر ستان دجمعیت العلمای اسلام محترم

٤مخ

دگوزڼ خلاف دواکسیناسیون کمپاین پای ته ورسید

کابل باختر: دپولیو یا دماشومانو دفلج دناروغی پرخلاف دواکسیناسیون دملی دکمپاین لومړی پړاوچی د وه ورځی مخکی دعامی روغتیا وزارت لخوا په ټول هیواد کی پیل شوی ؤ پرون پایته ورسید.

دکمپاین په دی پړاوکی چې دعامی روغتیا وزارت لخوا پیل شوی ؤ په ټول هیوادکی له پنځه کلنی څخه کښته

٤مخ

په هند کی دافغانستان په ملاتړ مظاهری وشوی

دایران رادیو باختر: دهندیوزیات شمیر خلکو پرون دهند دکلکتی په ښارکی پراخی خیابانی مظاهری وکړی او په افغانستان باندی بی دامریکا داحتمالی

٤مخ

په لوگرکی دامریکا دیرغل په وړاندی :

۱۸۰۰۰ مجاهدین تیار شول

کابل باختر: دلوگرولایت دڅرخ په ولسوالی کی اتلس زره تنه مجاهدین په افغانستان باندی دامریکا داحتمالی برید په وړاندی جهاد ته تیار شویدی.

دهغی کتنی په ترځ کی

٤مخ

په پیښور کی دمجاهدینو په ملاتړ مارش وشو

کابل - باختر: عالمانو طالبانو قومی مشرانو افغانی مهاجرینو او انصاروپرون مازیگر دپاکستان دپیښور ښار دبورددسیمی دحاجی ظاهر په جوماټ کی یوه اعتراضیه غونډه کړی وه.

په دی غونډه کی چې محترم ارباب نعیم خان په مشری وشوه محترم مولانا غلام رسول محترم مولوی شفیع الله محترم مولوی عبدالله محترم قاری ولی الله ، محترم ملا سرور پاچا او یو شمیر نو رو برخوالو په افغانستان باندی دامریکا داحتمالی یرغل دناوړو پایلو په باب خبری وکړی

٤مخ

سرمقاله

دلوی او بښونکی خدای «ج» په نامه

نن پرموږ سبا پرتاسو

په سیمه کی دوروستی سیاسی ویری له امله دډیرو هیوادونو پښی ولړزیدی او له خپل مسیره بی خطا لاره ونیوه هغه چې په ډیر تفکراو دور اند یشی بی خپله کړی وه خو دوی په دی پو ه نه دی چې ددغوویرونکو زبرځواکونو اصلی موخی هم همدادی او په دی توگه سره هغوی کولی شی خپلی دغه اوږدی او طویل المدته گټی ددغو هیوادونو په بی ثباتی ،انحراف او دسپکی طمعی په ورکولوسره ترلاسه کړی.

نن که دواړه اړخه گاونډی هیوادونه د خپلو

٢مخ

دبوسنیا یو صربي افسر پرون د هاگ جنگي جنایتونو محکمي ته واستول شو

بی بی سی باختر: دبوسنیا یو صربی پوځی افسرچی دبوسنیا د یو زیات شمیر مسلمانانو په وژلو تورن دی پرون دهاگ دجنگی جنایتو نو نړیوالی محکمی ته واستول شو.

دبوسنیا په دغه صربی افسرباندی چې دجنرال رتبه لری تور لگول شوی دی چې په ۱۹۹۲ میلادی کال کی دبوسنیا دجگړی په بهیرکی بی دبوسنیا زیات شمیر غیر پوځی خلک وژلی دی

ولادیمیر پوتین پرون آلمان ته ورسید

دالمان غږ باختر: دروسیی جمهور رئیس ولادیمیر پوتین په سیمه ییز وخت پرون په وروستیو کی دالمان پایتخت برلین ته ورسېد.

پوتین غواړی برلین ته دخپل دری ورځنی سفر په وخت کی دالمان له صدراعظم

٤مخ

دقدم زینه

۳ مخ

دتوری وار

دناټو دترون نړیوال ځواکونه له مقدونیی څخه وځی

دامریکا غږ باختر: دناټو ترون پرون اعلام وکړ چی خپل نړیوال ځواکونه د روانی اوونی په اوږدوکی دمقدونیی له جمهوریت څخه باسی دناټو دترون دمنابعو وویل چی په مقدونیه کی ددغه سازمان دنړیوالوځواکونو دیرش ورځنی ماموریت پایته رسیدلی دی.

شـــریعت

دتاسیس کال :۱۳۷۴ هــ ش
:دلیکوال هیئت ترنظرلاندی
مسؤول مدیر: مولوی اسدالله «حیدری»
مــــرستیال: مــلامحمد ابراهیم «نبیل»
دیوی گڼی بیه:په هیوادکی(۱۰۰۰)افغانی په پاکستان کی (۳)کلداری
تیلفون :۲۱۳۸۱ توزیع او شکایات:۶۲۸۵۹
پست بکس : (۴۷۱)کابل افغانستان
جاری حساب : ۴۰۳۸۵ دافغانستان بانك مرکز
کمپوز: احمدجاوید «فقیری» چاپ : امارتی مطبعه

دسرمقالی پاتی برخه

لنډوکموگټو لپاره پرمو ډکیدونکی تاتا ر دلیدوپه هلیه دی سپادی هغوی هم ابدی غلامی اومړیتوب ب له فکره نه باسی .

څکه دشرقی بلاک په نسکو ریدو سره دغربی زیبباک دیر غل څپه پوځي‌تیری او نظامی تجاوز نه دی بلکی ددی پیړی د چل فریب مکراو تزویر ترویری پردی لاندی په نبه هیوادوته دمرستی ، همکاری او ورورۍ لاسونه غځوی اودیوی خیالی دنیا په ورته جوړولویی تر خیته لاندی کوی.

دافغانانو بیا هم خدای په ښه دی چی هغوی ته دزوراوځواک گواښ کوی څکه دغه خاوره هرمتجاوز یرغلگر ته قبرستان گرځیدلی او دفریبکاره او مکار دښمن پکی دکم وخت لپاره پښه تم شوی .

زموږ حیرانتیا په دی کی ده چی امریکا په خلاص کومی دخپلو اوږد وگټو او طویل المدته پلانونو خبرکوی خودسیمی گاونډ ی هیوادونه په تیره ازبکستان ددی سره سره چی سبا به زموږ حساب ورسره پاته وی خپلی اوږدی گټی دنوروډ! ترگټو قربانوی او له پولی یی پرموږ ښکاره تیری کیږی.

امریکاداسلامی اتومی قوت او دمنځنی آسیا دپټومعدنی زیرمو دتسخیر او په سیمه کی دهغوهیوادونو دتهدید لپاره چی حساب پری کیږی یایی په اصطلاح سترگه تری سوځی تردی بل وړیااو طلایی چانس هیڅکله هم لاس ته نه شـوای راوړلای ، او هرچیرته چی امریکا دخپلو اهدافو لپاره خیته اچولی بیا یی تری ویستل له بی وسی او ابدی محور پرته بل څه ،نه دی شوی چی بیلگی یی په منځنی ختیځ کی بې چاودنی او په جنوبی کوریا کی دخلکو مظاهری دی .

راځی دخپلو راتلونکو گټولپاره دهیوادوپه سطحه فکر وکړو او دخپل راتلونکی او په امن راتلونکی لپاره لنده منده وته کړو .

اصلاحي ښوونه داسلام په رڼا کې

دوهمه برخه

مولوي عبدالباقي حقاني داطلاعاتو او کلتور وزارت کلتوري معین

-یوه ورځ حضرت عمرﷺ یواځي په فکر او سوچ کښي ناست دي چي حضرت حذیفه ﷺ داخل شو گوري چي امیرالمومنین غمجن لیدل کیږي او دسترگو نه ئي اوښکي بهیږي حذیفه ﷺ تري تپوس وکړو چه څه وجه ده چي امیر المومنین خفه لیدل کیږي حضرت عمر ﷺ ورته وفرمایل :

اني اخاف ان اخطي فلا یردني احد منکم تعظیمالي

زه ویریږم چه زه به خطا شم ولي یو تن به دتاسي نه ما دخطا نه واپس نکړي دوجي د احترام زمانه . حضرت حذیفه ﷺ ورته وویل «والله لورایناک خرجت عن الحق لرددناک الیه فیفرح عمر و یستبشر و یقول الحمد الله الذي جعل لي اصحابا یقوموننی اذا اعوجت

په خداي ﷻ قسم که مونږ دي وگورو چي دحق نه وتلي ئي نو مونږ به دي حق ته واپس کړو حضرت عمر ﷺ خوشحاله شو اووئي ویل الله ﷻ لره حمددي چي زما دپاره ئي داسي ملگري گرځولي دي چي زه کله منحرف شم ماسموي .

۲- یوه ورځ ممبر ته وخوت اووي ویل : یا معشر المسلمین ماذاتقولون لو ملت براسي الي الدنیا هکذا ؟؟ (ومیل راسه) فیشق الصنوف رجل ویقول وهو یلوح بذراعیه کانها حسام ممشوق اذن نقول بالسیف هکذا (واشارالي القطع)فسئل عمر ایاي تعني بقولک فیجیب الرجل ایاک اعني بقولي فتضیئي الفرحه وجه عمر یقول رحمک الله الحمد الله الذي جعل فیکم (في رعیتي) من یقوم عوجي .

اي دمسلمانانو ټولیه څه نظر لری چي که چیرته زه دنیا ته میلان وکړم په خپل سر سره دارنگي (خپل سرئي تاوکړو) نودصفونو څخه یو تن ورته راووت او خپل ځنگلي ئي پر قیدي لکه تیره توره.. . او ووېي ویل چي په توره به دي سموو دارنگي په توره یي د وهلو اشاره ورته وکړه حضرت عمر ﷺ تري پوښتنه وکړه چي ما اراده کوي په خپله وینا سره هغه ورته وویل : چي تا اراده کوم حضرت عمر ﷺ مخ دخوشحالي نه روښانه شو اووېي ویل په تا دي الله ﷻ رحم وکړي ثنا د الله ﷻ لره چي په تاسي که ئي داسي کس پیدا کړي چي زما انحراف او کوږوالي سموي .

مسلمان باید همیشه دپاره دحق طرفدار وي او حق ووائي اگر که دحاکم دوړاندي وي او همدارنگه هرڅوک باید حق واوري اگر که حاکم وي .

۳-یو خلي دحضرت عمرﷺ او دیوتن مینځ کښي مکالمه راغله جانب مقابل استدلال په راي سره وکړ او حضرت عمر ﷺ ته یي وویل (اتق الله یا عمر) دالله ﷻ څخه عمره وویریږه او دري کرته ئي داخبره تکرار کړه په ناستو خلقو کښي یو تن منع کړو چي بس کړه امیرالمومنین ته دي ډیري خبري وکړي لیکن حضرت عمرﷺ ورته وویل چي پریږ ئي ده فلا خیرفیکم ان لم تقولو هاو لاخیر فینا اذلم نسمعها ، په تاسو کي به خیر نه وي چي مونږ ته دحق خبره نکوي او په مونږ کي به خیر نوي چي دحق خبره وانه ورو او غوږو رته کیندو

۴- یووخت حضرت عمر ﷺ خلقو ته خطبه ورکړه اووي ویل (لاتزیدوافي مهور النساءعلي اربعین او قیه فمن زادالقیت الزیادة في بیت المال)

په مهرونو کي به دخلو ښځو او قیونه زیاتوالي نکوي او که چا زیادت وکړ نو په بیت المال کي به ئي تري اچوم زیاته حصه یوه زنانه ورته پاڅیده اوویل ویل ورته چي (ماذالک) داستا اختیار ندي حضرت عمر ﷺ ورنه ددلیل غوښتنه وکړه دي ورته وویل په جواب کي چي الله تعالي فرمایلي و آتیم احدا هن قنطار افلا تاخذو امنه شیئا اتا خذونه بهتانا والما مبینا . حال داچه ورکړي وي تاسي یوي ته ددي ډیر مال نومه ا خلي تاسي دهغه مال نه هیڅ شي آیا اخلي به تاسي دغه مال په ناحقه او په گناه ښکاره سره ، حضرت عمر ﷺ خوشحاله شو اووي ویل (اصابت امراة واخطا عــــمر) عمر ﷺ خطا او زنانه حــــق ته ورســـــــیده .

۵- حضرت عمر ﷺ فرمایلي واحب الناس الي من رفع عیوبي

ډیر محبوب دخلکو نه ماته هغه څوک وي چي ماته خپل عیوب راپه گوته کړي .

له دوستانو گیله که له دښمنانو

الحاج محمد حسن «فیروز خیل»

داطبیعي خبره ده چي هر څوک دخپلو مصلحتونو څخه نه شي تیریداي ، مگر پدي سیمه کي دسیمي د اولسونو گټي سره شریکي دي ، که کوم طرف ئي زیانمن کیږي ورسره نور گاونډي هم زیان ویني ، دنړیوال زبر ځواک له طرفه ، گواښونه اوپه سیمه کي فشار ددي باعث کیداي شي چي ډیرنه انگیرل شوي څه رامنځته شي څکه هر څوک خانته جداجدا گټي په نظر کي نیسي ، مگر افغان ولس چي دسمي داولسونو دنجات لپاره قرباني ورکوي دتاریخ په زرینو پاڼو کي ثبت ده ، انگریزانو چي لمر ئي په امپراطوري کي غروب نه کاوه دافغانانو په لاس مات شول او دسیمي اولسونه ئي له شره خلاص شول ، وریسي شرقي سوپر بلاک چي په افغانستان یرغل وکړ تودو ابو ته ورښکته کیدل او ددي سیمي هیوادونه ئي خپلي مستعمري گرځولي دشرقي بلاک لښکري هم دافغان مجاهد اولس په لاس ماتي شوي ، بلاک ئي ورته مات کړ او دسیمي هیوادو نه ئي ددوي له شره وژغورل او نجات ئي ورکړ اوس زمونږ خیني دوستان ددښمنانو په قطار کي ولاړ گورو ، دوي پدي فکر چي د نړیوال زبر ځواک له قوماندي پرته ژوند نشي کولاي او دخپل گاونډي په کور کي هر څومره ښمونه چي وویږي ، ویریږي به چي خبره داسي نده افغان اولس تل دخپلي خاوري څخه دخپلي عقیدي او استقلال څخه دفاع کړي او دنړي زبر ځواکونه ئي مات کړي نو ددي زبر ځواک مقابلي ته هم چمتو دي پدي یقین لري چي نصر من الله وفتح قریب .

دا زبر ځواک به هم ماتیږي او نړیوال به ئي له شره نجات مومي مگر خبره دگاونډیتوب ده مونږ خو خپل حقه حقوق بیا چاته نه پریږدو ، تر اوسه خو مو دگاونډیتوب خیال ساته او دگډوگټو خبره مطرح وه اوس چي گاونډیان زمونږ په سر سودا بازي کوي مونږ دموره خوار نه یو چي څوک رابانديي تجارت وکړي ، دښمن اصلاً خبره یو څه کوي ، اهداف ئي نور دي ، نه غواړي په نړي کي دي اسلامي هیواد اتومي وسلي ولري او منظم پوځ دولري ، عراق چي یو څه عسکري توان درلود په څه بهانوئي وټکاوه په اسلامي نړي کي چي اتومي ښمونه لري هغه زمونږ گاونډي دي چي ددښمن دسترگو خار دي داسامه په نامه یا هم دتروریستي کمپونو په نام په افغانستان دحملي پروگرام جوړوي مگر عسکري قوتونه چي راشي او په سیمه کي میشت شي دااتومي ځواک هم دنړیوال زبر ځواک په واک کي لویږي او دا سیمه نظامي مستعمره کول غوا ړي . که دسیمي حکومتونه پدي خطر ناکه توطیه خان پوه نه کړي او سر له وخت نه دتوطیو مقابله ونکړي استقلال ئي دتل لپاره په خطر کي ده ، او پدي سیمه کي به د اوږدي مودي لپاره جگړي دوام کوي او اولسونه به پدي اور کي لولپه دادي وخت وښوده چي اسلامي امارت یو مستقل او خپلواکه دخلـــــــکو له خوښي رامنځته شوي نظام دي نه هغه څه چي خلکو انگیرل .

مولوي عبدالجبار صدیقي معاون فني ریاست عمومي وادي هلمند وارغنداب در مصاحبه خبرنگار روزنامه شریعت

ازطرف ریاست وادي هلمند وارغنداب توزیع نمرات زمین جریان دارد

بعد از استقرار امارت اسلامي افغانستان ، در این کشور مردم در فضاي صلح و امنیت مطمئن به سر میبرند . بدین ترتیب وظایف سنگین احیاو بازسازي مخروبه ها ، مردم و مسوولین امور را به کار و مبارزه پیگیر وسودمند فرا میخواند .

یکي از این ارگانهاي که عمدتاً مسولیت تنظیم و ترتیب بر نامه هاي کاري را به عهده دارد ریاست عمومي وادي هلمند و ارغنداب است .

خبرنگار روزنامه بخاطر برجسته ساختن کار هاي این اداره صحبتي داشت با محترم مولوي عبدالجبار صدیقي معاون تخنیکي ریاست عمومي وادي هلمند وارغنداب که ذیلاً تقدیم خواننده گان میگردد .

نخست محترم صدیقي در مورد تصدي چنین معلومات داد ، ریاست عمومي تصدي وادي هلمند وارغنداب داراي تشکیل ۲۸۸ نفر پرسونل اداري و فني میاشند پروژه هلمند از جمله سابقه دار ترین پروژه خدماتي در کشور بوده که طي سالهاي حکومات قبلي و جنگهاي ذات البيني تنظیمي صدمات زیادي را متقبل شده است با آنهم به اثر عرق ریزي شدید ي که کارمندان این اداره متقبل شده اند تمام سیستم هاي آبیاري که غیر منظم بود قفلها واشترنگ هاي کانال ها دوباره احیا وبازسازي نموده و کانال ها را پاک کاري نموده اند ، همچنان در ولسوالي هاي ولایت هلمندکه تمام سیستم هاي آبیاري تخریب گردیده بود دوباره فعال گردیده است .

قابل ذکر میدانم که سه کانال نهر بغرا که از بزرگترین پروژه ها آبیاري در کشور است به کمک موسسات خیریه خارجي هر سه بند دوباره ترمیم و مورد بهره برداري قرار گرفته که گفته میتوانم بیشترین زمین هاي این ولایت از آن سیر آب میگردد ، همچنان کار ترمیم پروژه هاي شمالان و درویشان که حدود بیست کیلو متر طول دارد و قبلاً تخریب گردیده بود به مصرف سه ملیارد افغاني از بودجه امارت اسلامي هکذا پروژه شمالان که آب خیزي آن ولسوالي هاي اطراف را تهدید میکرد به مصرف دو ملیاردو یکصد ملیون افغاني از بودجه امارت اسلامي دوباره ترمیم و کار آن به سرعت ادامه دارد .

ریاست وادي هلمند وارغنداب بخاطر بهبود زنده گي مردم این سرزمین مطابق ماسترپلان شهري که مسوولیت اجراي آنرا این تصدي دارد به طول بیست وهشت کیلو متر نل هاي آب را تمدید نموده همچنان درساحه شهر چند عدد واتر پمپ را براي سر بندهاي شهر نصب نموده است

افتخار داریم که براي شهروندان ولایت هلمند مطابق ماستر پلان حدود دو هزار نمره توزیع گردیده است و توزیع نمرات هنوز هم جریان دارد .

محترم صدیقي در مورد بند برق کجکي چنین گفت :

بند برق کجکي که یکي از بند هاي مهم در کشور است و قدرت ۳۳ مگاوات را دارا میباشد داراي ظرفیت ۱,۷ ملیارد متر مکعب آب را میباشد که متاسفانه در اثر خشکسالي سالهاي اخیر آ ب آن کم گردیده که حتي در این اواخر پر چاوي هاي نوبتي هم صورت میگیرد ، در نظر است تا در بند کجکي دروازه را احداث نمائیم که در این صـــورت ظرفیت آب در این بند به ســـــه ملیارد متر مکعب آب خواهد رســـــــید.

ریاست عمومي وادي هلمند وارغنداب بخاطر آسایش مردم در ساحات مختلف چاهاي عمیق حفر نموده که مردم این ولایت از آب صحي آن استفاده مینمایند محترم مولوي عبدالجبار صدیقي در اخیر افزودند .در حال حاضر که امارت اسلامي ما در برابر خویش جبهات نا مقدسي را احساس میکند از یک جهت مخالفین و از جانبي تهدید هاي امریکا تمام امکانات اقتصادي را ضعیف میسازد از شهر وندان شریف خویش تقاضا داریم بخاطر بهبود زنده گي مردم دوشادوش ادارات امارتي کاروفعالیت نمایند تا در برابرهمه ناملایمات زنده گي استوار و پایدار ایستاده گي نمائیــــــــــم.

چـــی کـــشور دافـــغـــانانو معطر کا
دهربیت مصرع می زلفی دخوبان کړی

دشعر او ادب پړی

دتوری وار

لاتــراوســـه ئی بـــدن لــړزی نیولی
چه پــه تــن ئی دجهاد غشی خوړلی
لاپه خوب کی وارخطاهیبت زده شی
برایـدن په څیرنیم ژوبله تښتیدلی
لا ترمرګه به ویریږی هــر مسلم نه
دجــهاد دتورو وارچـــی چــا لیدل
لاپه منډه بـه نــی ګـڼـرنه کړی همرازه
تـورکه ســـورمتجـــا وزدی زغلولی

حراست میهن

حیات الله بخشی

مازاستقلال وآزادی حـــراســـت میـــکنیم
دشمنان ددمنش را سخت سیاســـت میکنیم
گرمقابل میشویم با دشمـــنــــان اندرمصـــاف
سخت می جنگیم واز میهن حراست میکنیم
درمیـــان کــــار وزار با دشمــــنان اجنبی
تکیه برایمــــان وعقل وهم فراست میکنیم
چون بود قانون مــــادیـــن وشریعت درجهان
برســـــرهرکــــافرودشمن ریاست میکنیم
بهــرآزادی واســـتقلال میـــهن «بخشیا»
ابتکار شعر بکر بـــــاســـــلاست میکنیم

غـــزل

نورشاه نورانی

مــاچــی دخپــلی ژبی هر توری مرید کړی دی
رقـــیب مــــی ځـــکه دهمدئ هرتردید کړی دی
هلــه رامنـــده چی مـــرګ تـــه بـه می ورسوی
جانانه ستاد کــوڅی سپوررابانـدی برید کړی دی
پرهغـــه ځمـــکه اوس ګلونه دغاتول دی راشنه
زمازلـــی ورور بی چی تیرکالی شهید کړی دی
زمــاوروکــی غوندی سوال بی کړودخاورومیلمه
چــی جــانان هرڅه راته ویل مانی تایید کړی دی
داچـــی دسترګـــوکاسی دکی وری وهری خواته
ګوره هرښکلی می دزړه پـــه غوبنو عید کړی دی
تنکی حســین زرګی ئـــی بی ګنـــاه راقتل کړلو
جـــانان لــــه مـــاسره یوداخوی دیزید کړی دی
په ماغریب ئی «نورانی » خدای خبرڅه خرڅ کړی
دسحرګروپه بازار کی مــــی خـــریدکـــړی دی

بـادتـه

صالح محمد

زمادخوب
زمادرویا
دوچی ونی لاندی
دزړه یګیم ، بربنډ ماشوم می وروسوړو
زانګی دخوب په ترموسترموزلفو
باده! لورورو تیرېږه
وزری ورو رپوه
چی می دژوند پرشونډو
ددعاګانو تسلسل
چیرته
نیمګړی
نشی

انعــکاس

نورخورشید فــلــک از روشـــنی روی توست
نگهت بادصـــبا از طره خـــوشـــبوی تـــوست
می رباید دیـــن ودل را از مـــــن وهوشیارها
ســـحرجام وباده اندر نـــرگس جادوی توست
بیدمجنون شد بزیرافـــگنده بینـــیم هرکجا
شرمسار راز اشک سروا قامت دلجوی توست
ناله وفریاد بلبل روز وشـــب در بـــاغ وراغ
درفراق گلشن و گلزارطرف کـــــوی توست
لاله خون دل گریبان پاره دردشـــت ودمـــن
سنگ وهم خارش بیا لیکن به جستجوی توست
ماه وانجم شاد مان شادی کنان چشمک زنان
انتظارماه رویت درفـــضا ی کـــوی تـــوست
قامت خم گشته ، احوال پـــریشـــان حمید
انعکاس زلف شبرنـــگ وخم ابـــروی توست

دقــدم زینه

ملاحبیب الله احمدی

دوعـــا گـــانـی او زاری می — نیمو شپو تـږی سلګی می
زرئـــی وسپـــړه بـــاریه «ج» — دادهـــیلوســـری غـــوټی می
پـــه تــــصدیق ئی ته بدل کړی — خـــیالی خـیال او داشګی می
خدایه «ج»مــه ئی کاندی تیتیه — داپـــه ســـر سیـــنه پـګړی می

* * * * *

هـــریـــوول ئی ته زینه کړی — چـــه قـــدم کـړو پری وړپورته
دپامیرلـــــه هـــسکوڅوکو — شـــوروان دتـــرمـــذ لـورته
غلیم هرځــای کی ته مات کړی — دازمــــونــــږدمــتو زورتـه
له پامـــیر تـــر ســــمرقنده — نـــیک پیغام لــروهـروورته

* * * * *

دسپـــیڅـــلیو هیلو شوردی — پـــری وړمـه وړمـــه آسیـــاکړی
دحدیث دبـــــن غـــوټی دی — پـــری سمـــسوره بـخار اکړی
دبــــدرنـــــګولـــــه منـګــلو — تربنه خلاصه ژراقـــصی کـــړی
داتـــورمخـــی اوبـــی شـــرمه — پـــه هـــرځای کی ته رسواکړی

* * * * *

دمـــکار صـــیهون لــــه لاسه — داقـــصی دروح زګـــیروی دی
داسلام پــه لارکـــی ولــی ؟ — ګـــرځـــیدلی ګل اغزی دی
داکـــفری جـــهان تـول یودی — پــــرونــــی کـــه نــنی دی
دالـــله ددیـــن دبـــمـــن دی — پری نـــاطـــق اوبـــادی دی

* * * * *

پـــه عـظمت ئی چی قابل دی — داآســــمان اودغــــه ستوری
نن دکوم خـــایـــن لــــه لاسه — دپـــردیـــوورو تـــه ګـــوری
دپـنـــجاب لمـــرودی ســـوی — نـــه ســـرپوښ لری نه سیوری
داسری وینی ســـره او رونـــه — دافـــغـــان پـــه شـــفق اوری

* * * * *

خدایه «ج» څه شول هغه خلک؟ — نـــه بـــه راشی محمد جان بیا
داامـــت ستـــرګـــی په لاردی — ویـــه تـــه وینـــی سلطان بیا
نه به ولاړشـــی کـــاروانو نه — په طرف دهنـــدوســـتان بـــیا
نــه بــه بـــیا توره اوچت کا — نه بـــه مــــات کاندی بتان بیا

* * * * *

د«حبیب» مـعصو مـــوهیلو — لاس نیـــمولـــی په دعادی
لــــه دوزخ نــــه ئی را باسه — دکـــوثـــر پـــرتمـــنادی
تبسم نــی پـــه نصیب کـــړه — لــــه حــــالاتـــو په ژړا دی
پـــرهـــرو نه ئی کوشیر کړه — ځـــوریـــدلی نصیب زما دی

اعــــلانــــات

بانك انكشـــاف صـــادرات یك دربند حویلی شركت جان لمتد واقع تایمنی راكه تحت تضمین بانك بوده به كرایه میدهد. اشخاص وموســـساتیكه خواهش كرایه آنراداشتـه باشند درخواست های خویشرا بمدیریت تصفیه و تحصیلی بانك انكشـــافی صـــادرات بسپارند و خودشان از تاریخ ۱۴۲۲/۷/۹ تــــاده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه كرده میتوانند تضـــیـــمن اخـــذ میـــگردد.

***

امـــان الله نماینده شـــركت عمرزاده لمتد مقدار بیست وپنج هزارونوصدو هشتاد و چاركیلوگرام چوب خشك بـــلوط بدون پوست را فی كـــیلومـــبلغ ســـه هزار وپنجاه افغانی ومقدار سه هزارو بیست وهفت كیلوگرام چوب خـــشك ارچه را فی كـــیـــلوگـــرام مبلغ دوهزارو نـــوصـــدو پنجـــاه افـــغـــانی قـــراردادمینماید.

مناقصه كننده گان درخواست های خـــویشرا بمدیریت خـــدمات ریـــاست تعیلمات تخنیكی ومسلكی وزارت معـــارف واقع جاده اندرابی بسپارند وخودشان از تاریخ ۱۴۲۲/۷/۹ تاده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه كرده میتوانند تضمین اخذ میگردد.

***

محـــمد اسمـــعیل مـــالك قرطاسیـه فروشی نبی زاده رسانیدن شصت و پنج قلم قرطاسیه غیر مطبوع مورد ضرورت سال ۱۴۲۲ وزارت مخـــابرات را به قـــیـــمت مجموعی مبلغ یك ملیارد وهشتـــصدو بیـــست و یك ملیون ویكصدو هشتـــاد وهفت هزارو ششصدو بیست وپنج افغانی قبولدار گردیده .

مناقصه كننده گان درخواست های خویشرا بمدیریت تهیه و خدمات وزارت مخابرات بسپارند وخودشان از تاریخ ۱۴۲۲/۷/۹ تـــاده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه كرده میتوانند تضـــمـــیـــن اخـــذ میـــگردد.

***

امـــریت وتـــرنری ریاست عـــمـــومی لـــوژستك وزارت دفاع ملی موازی ۱۲/۵ جریب زمـــین مـــزروعی واقع درالامان را برای مدت دوسال الی ختم فصل سال دوم به اجاره میـــدهد اشـــخاص ومـــوســـاتیكه خـــواهش قراردادآنراداشـــته باشند درخـــواست های خـــویشـــرا بریاست خـــریداری وزارت دفـــاع ملی واقع سرك دوم كلوله پشته جوار چهاراهی انصاری بسپارند وخودشان از تاریخ ۱۴۲۲/۷/۹ تاده روز مراجعه نمایند شرایط را ملاحظه كرده میتوانند تضمین اخذ میگردد.

***

آمـــریت وترنری ریاست عـــمومی لوژستیك وزارت دفاع ملی موازی چهل جریب زمین مزروعی واقع پلیگون بگرامی رابرای مدت دوسال الی ختم فصل سال دوم به اجاره میدهد. اشـــخاص ومـــوســـساتیكه خواهش قراردادآنراداشـــته باشند درخـــواست های خویشـــرا بریاست خریداری وزارت دفاع ملی واقع سرك دوم كلوله پشـــتـــه جوار چهاراهی انصاری بسپارند وخودشـــان ازتاریخ ۱۴۲۲/۷/۹ تاده روزمراجعه نمایند شـــرایط را مـــلاحظه كـــرده میـــتوانند تضـــمـــین اخذ میگردد.

***

عـــبدالروف نماینده شـــركت سالارزی لمتد یك باب مغازه ۱۴ بلاك ۱۰۴ مربوط كلوپ عسكری واقع مكروریان را ماهانه مبلغ یك ملیون وسه صدوپنجاه هزار افغانی برای مـــدت دوســـال به اجـــاره میگیرد.

مزایده كننده گان درخواست های خـــویشـــرا بریاست خریداری وزارت دفـــاع واقع سرك دوم كلوله پشته جوار چهاراهی انصاری بسپارند وخودشان از تاریخ ۱۴۲۲/۷/۸ تاده روز مـــراجعـــه نمایند شـــرایط را مـــلاحظه كرده میتوانند تضین اخذ میـــگردد جواز تجارتی و یا صنفی ملاحظه میگردد.

***

عـــبدالروف نماینده شـــركت سالارزی لمتد یك باب مغازه نمـــبر ۱۵ عـــقب بلاك ۱۰۴ مكروریان را مـــاهانه یك ملیـــون وســـه صـــدو پنجـــاه هزارافغانی برای مدت دوسال قراردادمینماید.

مزایده كننده گان درخواست های خـــویشـــرا بریاست خریداری وزارت دفـــاع ملی واقع سرك دوم كلوله پشـــته جـــوارچهـــارراهـــی انصـــاری بســـپـــارندوخـــودشـــان از تاریخ۱۴۲۲/۷/۸ تاده روز مـــراجـــعه نمایند شـــرایط را مـــلاحظه كـــرده میـــتوانند تضمین اخذ میگردد جواز تجارتی و یاصنفی ملاحظه مـــیـــگردد.

***

تصدی كود وبرق مزارشریف به تعـــداد یك ملیـــون وپنجصـــد هزاردانه خریطه خالی كودیوریا بومقدار یكهزاروهشتصدكیلوگرام تار دوخت ضرورت دارد. اشـــخاص ومـــوســـساتیكه خـــواهش رســـانیـــدن آنـــرا داشـــتـــه باشـــند درخواست های خـــویشرا بریاست انـــسجام صـــنـــایع وزارت مـــعـــادن وصـــنـــایع بسپارند وخودشان از تاریخ ۱۴۲۲/۷/۹ تـــاده روز مراجعه نمایند شرطنامه و مشخصات را ملاحظه كرده میتوانند تامینات اخذ میگردد.

***

حاجی شهزاده فرزند حاجی عبدالكریم موازی نه جریب ونیم بـــوه زمین زراعتی واقع چارراهی قمبر را سالانه فی جریب مبلغ هفتصد هزار افـــغـــانی به اجـــاره میـــگیرد.

مزایده كننده گان درخواست های خویشرا بریاست ناحیه پنجم شاروالی كابل بسپارند وخودشان از تاریخ ۱۴۲۲/۷/۸ تاده روز مراجعه نمایند شرطنامه را ملاحظه كرده میتوانند تضمین اخذ مـــیگردد.

***

غـــلام سخی فـــرزنـــد سیداحـــمد امتـــیازی یكـــبـــاب كلینیك تشخیصیه به اســـمی عثمانی واقـــع ولـــوالی یوسف خیل ولایت پكتیكا مـــربـــوط خـــویـــشرا بـــاتمام ملـــحقات آن بـــالای محـــمـــد امین فـــرزنـــد محمد حـــكیم واگـــذار گردیده اشخاص ومـــوســـاتیكه درمورد كلینیك مذكور ادعا داشته باشند ازتاریخ ۱۴۲۲/۷/۹ تاده روز بـــریـــاست قـــوانین صـــحی وبررسی وزارت صحت عامه كتباً اطـــــلاع دهنـــد.

دهېوادتولو ...

کی متقاعد کړی.

دغه راز خبرورکول کیږی چی په اړوندو سیمو کی دنظامی زونو نو او ولایتونو له چارواکو سره تماس ونیسی او دهغوی په مرسته او همکاری خپل نظامی مشکلات حل کړی.

دجگړو په مختلفو ...

ناکامو تعرضونو لاس پوری کړی چی په هماغو لومړیو شېبو کی داسلامی اردو دمجاهدینو دټینګو ګوزارونو له امله ددښمن تعرض شنډ کړای شو او له کومی لاسته راوړنی پرته په شاتګ ته اړشو.

ددغه خبرځای دخبر له مخی دارن دښمن دسر ددرندو زیانو نو او دزیاتو مالی تاوانونو په زغملو سره دتیښتی لاره غوره کړه او اوس داسلامی اردو مجاهدین په حالاتو باندی بشپړه واکمنی لری او په لوړجنګی مورال سره دخلکو دسرلي او امنیت دفاع کوی.

دبل خبر له مخی دکاپیسا ولایت دسنګ برید ه په سیمه کی ددښمن یوبل ناکام تعرض داسلامی اردو دمجاهدینو لخوا شنډکړای شواو دښمن دخپلو افرادو دیوزیات شمیر مړو او ټپیانو په پرېښو دلو سره دجګړی له ډګرڅخه دتیښتی لاره غوره کړه.

داندونېزیاعالمانو ...

سره مخالف دی داندونیزیا دعلماو دشورادغه مشران وایی چی دوی هغه حملی هم غندی چی په نیویارک او واشنگتن کی شویدی ددغی شورا منشی دیم سبام سد ین وایی چی داندونیزیا دعلماو شورا په اند ونیزیا کی اسلامی ډلی ټولی ددهشت اچونی سره دمبارزی ټینګ ملاتړ کوی دزورزیاتی په ضد دبی عدالتی په ضد دمقابلی کلک ملاتړ کوی په عین حال دغو دینی عالمانو دامریکا پدی پلانونو باندی هم بدو ردو ویل چی په تروریستی پیښو کی دلاس لرلو په تورن سری پسی افغانستان ته چی اسلامی نظام په کی جاری دی ورغلی ښاغلی سیام سدین دا خبر داری ورکړچی داپه نړی کی په تیره په اسلامی هیوادونو کی دامریکا رنګه ښه نه بلکی بده کړی موږباید داواضع کړو چی دهشت ګرځوک دی زه باید ووایم چی په ډیر و اسلامی هیوادونو کی ډیر مسلمانان داسی فکر کو ی چی دامریکا حکومت دهشت ګردی.داندونیزیا اسلامی ډلو پرون په ټولو مسلمانانو غږ وکړچی دامریکادهرډول تیری په وړاندی سره یو موټی شی. ا - هـ

په ټول هېوادکې ...

سیاست دغندلو په ترڅ کی دیرغلګرو پوځونو پرخلاف دجهاد په لاره کی خپل تیاری څرګندوی.

دهغوغونډو په ترڅ کی چی دامارتی ادارو دچارواکو اومنسوبینو طالب العلمانو کسبګرو او زمورږ دټور وهیوادوالو په ګډون دهیواد دمرکز او ولایتونو په بیلابیلو سیمو کی وشوی په غونډوکی برخه والو عالمانو دقومونو مشرانو او ستازو او امارتی چارواکو دخپلو ویناو وپه ترڅ کی داسیا په جنوب کی دامریکا دپوځی پروګرام اصلی جړی او ناوړه هدفونه حاضرینو ته بیان کړل.

دکابل ولایت دبګرامیو ولسوالی دهلمند ولایت مرکز لشکرګاه د تخار ولایت دکابل ولایت دفرزی ولسوالی دغزنی ولایت داندړو اوګیلان ولسوالی دکندهار ولایت سپین بولدک دلوګر ولایت دازړی ولسوالی دپکتیا ولایت دزرمت ولسوالی دمیدان وردګ ولایت د سیدآباد ولسوالی دکندز ولایت دقلعه زال ولسوالی او دزابل ولایت دشینکی ولسوالی سپین ږیرو علماو ومشرانو او مخور وټولو په یوه غږ دامریکا پراختیا غوښتنه وغندله اوپرافغانستان داحتمالی برید په اړه ټو لوجهادته تیاری څرګندکړ.

مراکزتیلفون ...

تائید این مطلب به خبرنگار ما زریعه تیلفون چنین افزود.

این مراکز درنقاط مختلف شهرکابل عملاً به فعالیت آغاز نموده ومحصول ان درمقاسیه بامراکز قبلی مخابره بین المللی درین شهر تقریباً ٥٠ فیصد تخفیف دارد.

وی اضافه داشت : هموطنان ما متیوانند ازطریق این مراکز با دوستان شان درکشور های آسیایی ، اروپایی او امریکایی همه روزه از ساعت ٦ صبح الی ٩ شب تماس بگیرند. **مهربان**

حملات احتمالي ...

سفید را جهت دیگر بخشیدوهمه امیدواری های دولت امریکارا قسماً به یاس مواجه ساخت.

پوتین درپیام تلویزیونی دیشب خویش اعلام داشت که ما مخالفین امارت اسلامی را درافغانستان برسیمت شناخته واز آنها حمایت و پشتیبانی قاطع مینمایم.

امریکا باید در عملیات عدالت بی پایان منافع روسیه را نادیده نگیرد. روسیه درصورت با امریکا موافق است که در تطبیق این برنامه از مخالفین منحیث یگانه نیروی مقاومت استفاده نماید در غیرآن نتایج مثبت درقبال این عدالت با خودنخواهدداشت بایددر سیاست یک نکته را هیمشه متوجه بوده و آنراو لویت داد که سیاستمداران بیشتر روی معنی حرف میچرخندتا روی حرف ، به این معنی که صرف سیا ستمداران چندان قابل ملا حظه نیست ، مگر درمقایسه به معنی آن از همین واسطه ژورنالستان پیوسته دنبال معنی حرف سرگردان راز و به اصطلاح از گپ ، گپ های میسازند.

بادرنظرداشت این نکته گفته میتوانیم که معنی حرف های پوتین در پیام تلویزیونی دیشب وی خیلی با ارزش و یقین کننده بود روسیه تحمل این را ندارد که در مرز های جنوبی تاجکستان ، ازبکستان و ترکمنستان عساکر قصرسفید و درداخل افغانستان یک حکومت دست نشانده امریکا را مستقر ببیند.

پوتین به امریکا فهماند که دولت سیار استاد ربانی را به عنوان دولت قانونی افغانستان هم ملل متحد می شناسد و هم خود دولت امریکا ، بناً چه ضرورت خواهد بود که پادشاه ٨٦ ساله از روم کنار آید وزعامت افغانستان را به عهده بگیرد.

رئیس جمهور روسیه تلویحاً به امریکا مشورت داد که افغانستان شمالی را به روسیه واگذارشود و درافغانستان جنوبی حکومت ظاهرشاه را مستقر بسازد ، البته درغیرآن مخالفین را در افغانستان تا داندان تسلیح نموده وبه عدالت بی پایان امریکا نقطه پایان خواهد بخشید حالابرای امریکا دو راه بیرون رفت درقبال این کشمکش وجود دارد؛ اولاً قبول شکست یا عقب نیشنی آبرومندانه و ثانیاً هم پذیرفتن مشوره پوتین.

بیشک که انجام این دوامر درحالی حملات احتمالی امریکارا بالای افغانستان به تعویق می اندازدکه اعلان جهاد سر تاسری ملت مجاهد و باشهامت افغان در کوتاه ترین فرصت جهان اسلام و غیر اسلام را از شر این شیطان بزرگ برای همیش نجات خواهد داد. **مهربان**

خوست لیدني .

لومړی ناظم او نایب څرګنده کړه که چیری امریکا په افغانستان او دهغه په مظلوم ملت باندی برغل وکړی ددغه جمعیت ټول طالبان او مجاهدین په سراو مال سره دامریکی په وړاندی جهاد وکړی.

په مقابل کی دخوست محترم والی دافغانستاندخلکو په مقدس جهاد کی دجنوبی وزیرستان دخلکو دهمکاری یادونه وکړه او دهغوی دښواو اسلامی ولولو له امله بی قدردانی وکړه.

دجنوبی وزیرستان دجمعیت العلمای اسلام شل کسیز هیات چی په ترکیب کی یی محترم مولانا نیک بهادر محترم مولانا سیدزمان محترم مولانا نورشریف ، محترم مولانا احمدالله ، محترم مولانا عطا الله او یو شمیر نور عالمان شامل د ی پرون پداسی حال کی دخوست له محترم والی سره وکتل چی ددغه ولایت اداری رئیس محترم مولوی محمد نعیم داستخباراتو رئیس محترم مولوی عبداللطیف الطاف او ددغه ولایت د سرحدی پوځ قوماندان محترم ملا احمد شاه ملنګ یارهم حاضر وو.

۱۸۰۰۰ مجاهدین ...

چی دکورنیو چارو وزیر محترم ملا عبدالرزاق اخند دخپل کار په دفتر کی دلوګر ولایت دځرخ ولسوالی له عالمانو جهادی قومانتدانانو او دخلکو له استازو سره درلوده دوروستیو پیښو او په افغانستان باندی دامریکا داحتمالی برید په باب څرګند ونی وکړی.

وروسته محترم الحاج شاه محمد دځرخ ولسوالی دعالمانو قوماندانانو او ستازو په نماینده ګی خبروی وکړی په افغانستان باندی بی دامریکا داحتمالی برید دغندلو په ترڅ کی داد ورکړ دځرخ ولسوالی اتلس زره تنه مجاهدین دجبهو لومړیو کرښو لیږلوته تیاردی.

دبل خبر له مخی دلغمان ولایت د علیشنګ ولسوالی څلویښتو تنو جهادی قوماندانانو دخپلو سلګونو تنو مجاهدینو په ګډون په افغانستان باندی دامریکا د احتمالی یرغل پرخلاف دجهاد په لاره کی خپل تیاری څرګندکړ.

په هغی غونډه کی چی له همدی امله د علیشنګ ولسوالی د علمای کرامو جهادی قوماندان اتانواو دزرګونو تنو خلکو په ګډون ددغی ولسوالی په مرکز کی برابره شوی وه دعلیشنګ ولسوالی داړوندو قومونو په نماینده ګی محترم قوماندان عبدالغفار او نورو مجاهدینو دیرغلګرو په خلاف دجهاد په لاره کی تیاری څرګندکړ.

په هند کې ...

بریدپرخلاف خپل سخت اعتراض څرګند کړ.

درارسیدلو خبرونو له مخی دهند دکلکتی ښار خلکو پداسی حال کی دافغانستان پرخلاف دامریکا له احتمالی بریدسره خپل مخالفت څرګند کړ چی د هند ځینو سترو سیاسی ګوندونو او دلوهم په دی اړوند خپله اندیښنه څرګنده کړیده.

دګوزن خلاف ...

کابوېنځه اعشاریه او ه ملیونه تنه ماشومان دفلج دناروغی په وړاندی واکسین شول.

دکمپاین په دی پړاوکی دوه دیرشوزور تنو روغتیایی پرسونل او رضاکارانو چی له دی جملی څخه پنځه سوه ۱٦ تنه کورد ینا تورانو یوزرو اته سوه تنه سوپر وایزران او یوزرو اته سوه تنه مبلغینو فعالیتکاوه.

یوه اړوند خبر ځای وویل دکابل په ښارکی دماشومانو دفلج دناروغی پرخلاف دواکسیناسیون دفرعی کمپاین په پړاوکی له پنځه کلینی څخه ښکته څه دپاسه دری سوه نوی زره تنه ماشومان چی له دی جملی څخه یوسلو ۹۵ زره دوه سوه شپږ ویښت تنه هلکان او یو سلو څلور نوي زرهاوه سوه اوه تنه نجونی دی واکسین شویدی.

په پېښور کې ...

او دافغانستان له اسلامی امارت سره په ملاتړ او دیرغلګرو پرخلاف دجهاد په لاره کی بی خپل بشپړ تیاری څرګندکړاوټینګا ربې وکړچې په افغانستان کې اسلامی نظام دکفار ددسترګو اغیزی دی

دغونډی برخه والو په اعتراضیه مارش لاپورس کړ.

اوپه کرکی او نفرت سره یی دبوش تصویر ته دبورد په څلور لاری کی اور واچاوه.

ولادیمیر پوتین ...

او ددغه هیواد له جمهوررئیس سره خبری اتری وکړی.

دروسیی اوالمان دلوړرتبه مامورینو ترمنځ خبروکی به ددواړو خواو دعلاقی ورمسالو په باب غور کیږی.

SHARIAT DAILY
Published by:
Islamic Emirate of Afghanistan
Chief Editor:Mawlwi. Assadullah.Haidari
Editor :M.Abrahim.Nabil
Composed by:Ahmad Jawed .Faqeer.

توجه!

ایمان شما اجازه نخواهدداد که اوراق حامل چنین کلمات مقدس را به بی حرمتی بگذارید

دنړی مسلمانان دی دصلیبی جګړو اعلان شوی جنګ ته یو موټی شی